مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی

۲۰۲۳/۰۸/۲۹

# نړیوالي ټولنې

## ۷۷ برخه

سیمه ییزه ټولنې

اروپا

**پنځم څپرکی**

**سیمه ییزه ټولنې**

**آسیایي ټولنې:**

**۶ - د آسیا سویل ختیزو ولسونو ټولنه Association of South East Asian Nations (ASEAN)**

دا ټولنه د مالیزیا، فلیپین، اندونیزیا، تایلند او سنګاپور هېوادونو له خوا، د کال ۱۹۶۷ د اګست په ۸، په بنکاک (تایلند) کې جوړه شوه. ASEAN چې د جنوب ختیځې آسیا هېوادونو د یوځي ټرون ځای ونیو، د دې له پاره جوړه شوه چې په جنوب ختیځه آسیا کې، د چین ولسي جمهوریت او ختیځ بلاک، د ورځ په ورځ ډېرېدونکي اغېز مخه ونیسي. که څه هم چې په لومړي سر کې د ASEAN له پاره د ګډو همکاریو پراختیا؛ په اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، فني او څېړنیزو برخو کې متقابلې مرستې او د چاپېریال ساتنې، بشري حقونو او ولسواکۍ د تحقق په برخه کې، د غړو هېوادونو تر منځ همکارۍ په شان مسایل، د اهدافو په توګه ټاکل شوي وو؛ خو اصلي خبره امنیتي وه او د چین او ختیځ بلاک د پرمختګونو په مخنیوي ټینګار کېده. په کال ۱۹۸۴ کې برونی د ASEAN غړیتوب تر لاسه کړ.[1]

د شوروي اتحاد او ختیځ بلاک له ړنګېدو او د چین ولسي جمهوریت په سیمه ییزه او اقتصادي سیاستونو او تګلارو کې د ژور بدلونونو وروسته، د ASEAN په اهدافو کې داسې بدلونونه اعلان شول:

- د سیمې اقتصادي، ټولنیزه او فرهنګي پرمختیا،
- د قانون د واکمنۍ او عدالت په سیوري کې، په جنوب ختیځه آسیا کې د ثبات او امنیت ټینګول،
- په علمي، اقتصادي، ټولنیزو، فني او فرهنګي برخو کې، د اطلاعاتو تبادلې ته د غړو هېوادونو هڅول او عملي همکاري،
- د زده کړو، فني او مسلکي ښوونو او علمي څېړنو په برخو کې متقابله مرستې او ګډ کار،
- د اقتصادي، صنعتي، سوداګري، ټرانسپورټ او اړیکو په برخو کې، یو له بله مرسته او ګډ کار،
- د سیمې د خلکو د ژوندانه د سطحې اوچتول،
- د سیمې هېوادونو تر منځ، د ګمرکي تعرفو ټیټول،
- او له سیمه ییزه او نړیوالو ټولنو سره هر اړخیزه همکاري.

جوړښت: ASEAN پنځه اداري څانګې لري:

سرمشریزه: د غړو هېوادونو د مشرانو غونډه د دې ټولنې تر ټولو لوړ تصمیم نیوونکی ارګان دی، چې په درېیو کلونو کې یو ځل جوړېږي. د ASEAN کورنی جوړښت، د سرمنشي ټاکل او د کورنیو دندو د لوایحو تصویب د سرمشریزې په واکونو کې دي.

د وزیرانو شورا: دا د ASEAN دویم تصمیم نیوونکی ارګان دی، چې د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو څخه جوړ او په کال کې دوه ځلې، په نوبت په یو غړي هېواد کې (انګلیسي الفبا په ترتیب) غونډې کوي.

د وزیرانو شورا دنده لري چې د سیمه ییزه همکارۍ د پراختیا له پاره، لارښوونې جوړې او د غړو هېوادونو تر منځ د هوکړو او تړونونو تطبیق همږي کړي او د سرمشریزې پرېکړې عملي کړي.

اقتصادي ناسته: د ASEAN د غړو هېوادونو د اقتصادي چارو د وزیرانو غونډه، چې هر کال په رسمي یا غیررسمي توګه جوړېږي او د غړو هېوادونو د اقتصادي فعالیتونو په همغږي خبرې کوي. د ASEAN د وزیرانو شورا او اقتصادي ناسته، دواړه سرمشریزې ته راپور ورکوي.

دایمي کمېټه: د ASEAN د دایمي کمېټې غړي، د کوربه هېواد د بهرنیو چارو وزیر او په همدې هېواد کې د ASEAN هېوادونو سفیران دي چې معمولاً په دوو میاشتو کې یو ځل سره ګوري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دارالانشا: د ASEAN دارلانشا په کال ۱۹۷۶ کي، په جاکارتا (اندونيزيا) کي جوړه شوه، چي د ټولني ورځنی چاري مخ ته وړي. د ASEAN سرمنشي معمولاً د مشرانو په غونډه کي، د ۵ کلونو له پاره په کار ګومارل کېږي. د لوړپوړو چارواکو کمېټي او غونډي: د وزيرانو غونډي معمولاً د اطلاعاتو او کلتور، علومو، فنونو او ټولنيزي پراختيا د کمېټو له لاري جوړېږي. د ASEAN هېوادونو تر منځ د سياسي همکاريو د همږئ کار هم د لوړو پوړو چارواکو په غونډو کي سرته رسي.[2]
فعاليتونه: د شوروي اتحاد او ختيځ بلاک له ړنګېدو او د چين د ولسي جمهوريت په اقتصادي تګلارو کي ژورو بدلونونو، داسي ويره رامنځ ته کړي وه، چي کېدای شي د ASEAN وجودي فلسفه پای ته ورسی او د غړو هېوادونو ترمنځ ګډ کار او پيوستون کمزوری شي؛ خو داسي ونه شول. پيوستون لا پياوړی شو او په اقتصادي – ټولنيزو او فرهنګي برخو کي ملګرتيا نوره غښتلی شوه او ټولني نوي غړي ومونده:
ويتنام – ۱۹۹۵، لاووس – ۱۹۹۷، ميانمار (برما) – ۱۹۹۷ او کمبوديا – ۱۹۹۹ چي ټول ۴.۵ مليون ۲Km نه دي او له نيم بليون ډېر نفوس لري.[3]
د ASEAN غړو هېوادونو په کال ۱۹۸۹ کي، د نړۍ له ۶ هېوادونو (امريکا متحده ايالات، کانادا، جاپان، جنوبي کوريا، استراليا او نوی زيلند) په ګډون، د آسيا او آرام سمندر د اقتصادي همکاريو شوری يا APEC جوړه کړه چي په خپل ځای کي به خبري پري وشي.
ASEAN د پاسنيو جوړښتونو تر څنګ، يو څو نوري غونډي هم لري چي دلته به په لنډه وپېژندل شي:
- د اروپا – اسيا غونډه: د اروپايي ټولني او ASEAN تر منځ د غيررسمي خبرو بهير، چي په کال ۱۹۹۶ کي پيل شوی دی،
- ASEAN +۳: دا د ASEAN او د چين، جاپان او جنوبي کوريا غونډه ده، چي د خپلمنځي اړيکو د پراختيا له پاره جوړېږي.
- د ASEAN – روسيي غونډه ASEAN – Russia Summit: د ASEAN مشرانو او روسيي کلنی غونډه، چي د بېلابېلو موضوعاتو په اړه بحث کېږي.[4]
- د ختيځي اسيا غونډه East Asian Summit: دا آسيايي غونډه هر کال د ASEAN او د ختيځي اسيا د ۱۶ هېوادونو ترمنځ، د ASEAN له سرمشريزي وروسته جوړېږي. روسيه له کال ۲۰۰۵ څخه را پديخوا د دې غونډي څارونکی غړيتوب لري.
- د ASEAN سيمه ييزه غونډه: دا غونډه له ۲۷ هېوادونو جوړه ده چي ۱۰ د ASEAN غړي دي او ۱۷ نور دا دي: استراليا، بنګله ديش، شمالي کوريا، جنوبي کوريا، کانادا، چين، امريکا متحده ايالات، اروپايي ټولنه، هند، جاپان، منګوليا، پاکستان، نيوزيلند، روسيه، پاپوا نيو ګينی، ختيځ تيمور او سريلانکا. دا غونډه لومړی ځل په کال ۱۹۹۴ کي شوي او هدف يي په آسيا او پاسفيک هېوادونو کي، د څو اړخيزه خبرو او همکاريو پراختيا دی.[5]
- ASEAN Cer Meeting -: د ASEAN او استراليا او نيوزيلند خبري چي په دوو کلونو کي يو ځل کېږي.
- - د آزادي سوداګری ټولنه: د ASEAN هېوادونو تر منځ، د سوداګری د پراختيا او ګمرکي تعرفو د کمولو تړون، چي AFTA نومي په کال ۱۹۹۲ کي په سنګاپور کي لاسليک شو. په لومړي سر کي دې تړون ۶ غړي درلودل؛ خو وروسته ويتنام، ميانمار، لاوس او کمبوديا هم غړيتوب واخست. بايد وويل شي چي د ASEAN ټول غړو هېوادونه دا تړون نه مني.
- د ارتي فضا تړون ASEAN Open Sky Agreement: دا تړون چي د غړو هېوادونو تر منځ د هوايي تګ راتګ د آسانتياوو د ډېرولو له پاره، په کال ۲۰۰۳ کي په ميانمار (برما) کي لاسليک شوی و، په ۲۰۰۹ کي نافذ او عملي شو. په کال ۲۰۱۵ کي پرېکړه وشوه چي په دې تړون کي دې، د غړو هېوادونو په پلازمېنو سربېره، نور غټ ښارونه هم حساب شي.[6]
مقر: د ASEAN مرکز په بنکاک (تايلند) کي دی.

---

[1] پوهاند محمد بشير دوديال، د آسيا سويل ختيزو ولسونو ټولنه، تاند وېبپاڼه
[2] نړيوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۵۵-۱۵۴
[3] سازمان های بين المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ، ص ۲۷۹-۲۷۸
[4] www.asean.com
[5] نړيوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۵۵-۱۵۴
[6] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۲۵


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ